بسم الله الرحمن الرحيم

## په تاجکستان کې اسلامي ويښتيا!

### خبر

د اګیسټ په ۱۲مه د تاجکستان جنوبي سيمې (فانج) اوسېدونکو، پر سيمه ييزو چارواکو له دې امله لاريون وکړ، چې د حجاب او ږيرې پر ضد راپورته شوي وو. لاريون والو له سيمه ييزو چارواکو وغوښتل چې، پر ږېره لرونکو سړيو او حجاب لرونکو ښځو ژر تر ژره يرغل ودروي.

خلکو وويل: «ځوک چې زموږ د مېرمنو لباس ته لاس اوږدوي او ږېرې مو په زور خريي، ملا يې ماتوو.»

د ځوانانو د سياست اداري رييس په فانج (د ګورنو بدخشان خود مختاره سيمه) کې په يوه ويډيويي پيغام کې د يوې ځانګړې ډلې له جوړښت خبر ورکړ، چې ږېره لرونکي کسان پرې نږدي.

د فلم مسوول د خبرو په وينا: «د ږېرې اوږدول او ډارونکي کول زموږ د ځوانانو لپاره ښه نه دي. زموږ ځوانان ږېرې ته څه اړتيا لري؟ موږ يو ځل مخکې هم له ږېرورو ځورېدلي يو.»

### تبصره

د تاجکستان په ښارونو، کليو، عمومي ځايونو، سړکونو او د لېږد ـرا لېږد په عمومي ځايونو کې دغه ډول کړنې ترسره شوې دي. حجاب لرونکې ښځې او ږېره لرونکي ځوانان هلته نيول شوي او ټولې دولتي دستګاوې له يادو اسلامي صفاتو سره مبارزه کوي. له امنيتي چارواکو او د پوليسو له افسرانو نيولې تر پوهنې وزارت، د ښځو له کومېټې او د ځوانانو چارو تر کومېټې پورې داسې چلند کوي.

د امنيتي ځواکونو له روحي او جسمي فشار سره سره، خلکو د چارواکو پر ضد په ټول تاجکستان کې لاريونونه وکړل. په داسې حال کې چې ډېر څه شخصي و، خو له دې سره خلکو مخالفت وښود او په فانج سيمه کې دغه ډول کړنې ترسره شوې. خلک د خپل دين د دفاع په موخه را پورته شول او د وېرې لاملونه يې با بېزه وګڼل.

دغه کړنه بايد د تاجکستان ټولو بچيانو ته يو مثال وي چې له مېرمنو، خويندو، ميندو او دين څخه يې ساتنه وکړه. د دولت د دين ستېزه کړنو او له اسلامي ارزښتونو د تاجکانو ليرې کولو پر وړاندې د خلکو درېدل دا ښيي، چې لا هم هلته اسلام ژوندی دی.

په ياد ولرئ! د ۲۰۱۹م، په ژمي کې موږ وليدل چې تاجکانو څرنګه د رحمانوف د رژيم پر وړاندې د ږېرې او حجاب د منع کولو په اړه دربځ څرګند کړ؛ وروسته يې ټولې نړۍ ته ويډيويي پيغامونه ولېږل او له هغوی څخه يې وغوښتل چې د رژيم د اسلام ضد سياستونو پر وړاندې خپل لاريونونه جاري وساتي، هغه لاسپوځی رژيم چې

د خپلو بادارانو؛ غرب او روسیې په وسیله د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه جوړ شوی. داسې کسان له بېلا بېلو لارو وېروي او مخه یې نیسي؛ هغه کسان چې صادقانه له اسلام او د هغه له ارزښتونو څخه ننګه او دفاع کوي.

خو کله چې مسلمانان یوځای شي او  تېولیز عمل وکړي، جنایتکار رژیم پرېشانه کېږي او کوم ځواک نه ورته پاتې کېږي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾**

[آل عمران: 175]

***ژباړه***: *دا یوازې شیطان دی چې تاسو له خپلو ملګرو وېروي، که تاسو مومنان وئ له هغوی څخه مه وېرېږئ له ما ووېرېږئ.*

**لیکوال: فردوس سلیمزودا**

**ژباړن: الهام پردېس**

**جمله:**

په تاجکستان کې حکومت ښځې حجاب او سړي د ږیرې پرېښودو ته نه پرېږدي او په عامه ځایونو کې یې ځوروي.